FACS

FEDERATION

د افغانستان د مدني ټولنو فدرېشن
فدریشن نهاد های مدنی افغانستان

facs.kabul@gmail.com, +93 788 161 853

---

## د ملي وحدت حکومت د غیر عادلانه، غیر مسلکي او نامنصفانه کړنو او تشکیلاتو په اړه د افغانستان د مدني ټولنو د فدرېشن اعلامیه

یکشنبه، د مرغومي ( جدي) ۲۸مه، ۱۳۹۳
کابل

که څه هم د افغانستان خلکو د سرونو او وینو په نذرانو د خپل سرنوشت ټاکنې او کار اهل ته د سپارلو له لارې د یو سوکاله، سرلوړي او پرمختللي راتلونکي پر لور د چټکو ګامونو اخیستلو په منظور د ۱۳۹۳ لمریز کال ولسمشریزو ټاکنو د لومړي او دویم پړاو ټاکنو کې پراخه ونده واخیسته، خو له بده مرغه د افغان ولس د زړو، ورو او ځوانانو ارمانونه او رأیې د کورنیو او بهرنیو دسیسو ښکار او د ډیموکراسۍ د کورنیو او بهرنیو ډنډورچیانو او تش په نامه علمبردارانو لخوا د هغوی په خپل لاس د ولسواکۍ او ډیموکراسۍ ټول منل شوي ملي او نړیوال نورمونه، د افغانستان اساسيقانون او نور حاکم قوانین د پښو لاندې شول او د یو ناکام سیاسي مصلحت پر اساس د افغانستان د اساسي قانون په صریح خلافورزۍ سره د ملي وحدت د حکومت په نامه د دوارو ټیمونو د وحدت حکومت رامنځته شو.

د یاد حکومت د رهبرۍ سر له بده مرغه دومره وپرسید چې د وطن او ولس د مختلفو سکتورونو د پرمختګونو، پراختیایي او پرمختیایي، علمي او فرهنګي،سیاسي/ډیپلوماتیکي او اقتصادي برخې او په لویه کې امنیتي او عدلي قضایي سیستم یې له پراخو ګواښونو سره مخ کړ، او بالآخره له پراخو او اوږدو نادرو دواړه ټیمونه پر دې وتوانیدل چې د ملي امنیت او د افغانسان بانک د ریاستونو نوماندانو سره یو ځای د یوې ۲۵کسیزې کابینې د نوماند وزیرانو لست خپور کړي.

۱. د افغانستان د مدني ټولنو فدرېشن د پراخو او دقیقو مطالعاتو، د ولس او سکتوري کارپوهانو سره په ګډه د ترلاسه شویو معلوماتو او د علیاء ملي مصالحو له مخې د ملي وحدت حکومت له کړنو داسې انګیرې چې یاد حکومت د ملي وحدت حکومت نه، بلکه د دوه ټیمونو یو ائتلافي حکومت دي، ځکه چې په دغې تشکیلاتو کې نه یواځې د هیواد د څه باندې ۸ملیونه رایو بلکه د هیواد د نورو څه د پاسه ۲۲ملیونو وګړو د استازو متوازن حضور او ټولنیز عدالت تر پښو لاندې شوی دی.

۲. د یاد لست ډېرې سلنه نوماندان د دواړو ټیمونو د منشورونو کمپاینې شعارونو او وعدو او رسمي دولتي بیانیو په صریح مخالفت کې له یو شمیر داسې خلکو جوړ دي چې یا خو په اړوند سکتور کې مسلکي او تخصصي زده کړې نه لري، یا هم مسلکي او سکتوري تجربې نه لري، یا یې عمرونه د قانون خلاف ډېر پورته او د استراحت ایجاب کوي، د یو نیم هم عمر تر قانوني هغې ښکته او د ځینو یې هم تابعیت، شخصیت، وړتیاوې او د ملي ګټو ( وطن او ولس) پر وړاندې صداقت او ژمنیتا د سوال لاندې دي، او یو شمیر هغه هم د تیرو ۳۵ کلنو بدبختیو عاملین او یا هم د ناکامو تجربو خاوندان او په تیر کې ملي ګټو ته ژمن نه دي ثابت شوي.

نو ځکه خو، د افغانستان د مدني ټولنو فدرېشن د خپلو تیرو رسمي اعلامیو او دریځونو په تداوم د ملي وحدت حکومت پر مشرانو غږ کوي چې:
۱. د ملي وحدت حکومت دې د قانون له مخې د کړیو ژمنو او شعارونو، رښتینې انصاف، ټولنیز عدالت او د خلکو د متوازن مشارکت د اصولو په پام کې نیولو سره پر خپلو تشکیلاتو له سره جدي غور وکړي، په رښتینې بڼه دې یې د سهامي شرکت له سبکه وژغوري، او په عملي بڼه دې د افغانستان د ټولو وګړیو د رأیو او د انصاف د تلې پر اساس د حکومت له رأس تر قاعدې د خلکو متوازن حضور، ښایسته سالارۍ، وړتیاوو، ملي ګټو ته د صداقت او وفادارۍ، مثبتو سوابقو او قوي ایمانداری پر بنسټ نظام رامنځته کړي، څو د هیواد د هر ولایت او قوم د هر وګړي د ارمانونو د پوره کیدا او بشپړ ملاتړ هنداره او د هیواد د چټکو پرمختګونو عملي ضامن وګرځي.

د افغانستان د مدني ټولنو فدرېشن (FACS)، ټول حقوق خوندي دي - یواځې د مأخذ په یادولو سره د دغې خپرنې له موضوعاتو ګټه اخیستلای شئ. facs.kabul@gmail.com

۲. د ولسي جرګې غړي دي د خپل اصالت او رسالت او پورته ګړیو سوګندونو پر اساس د نوماند وزیرانو کره او دقیقه ارزیابي وکړي او یواځې هغو نوماندانو ته دبد باور رأیي ورکړي چې د ټول ملت د ارادو او ارمانونو، د وطن او ولس د عزت، شرف، ازادیو او پرمختګونو او د هغوی د سوکاله او سرلوړي راتلونکي لپاره ژمن، د مثبتې سابقې، ښو کارکردګیو، مسلکي زده کړو او کاري وړتیاوو خاوندان وي، او هیڅکله دې د شخصي اغراضو پر اساس تعاملاتو ته نه داخلیږي. د ولسي جرګې هر هغه معامله ګر غړی چې د قانون خلاف د ناروا تعاملاتو له مخې د ملت له ارمانونو سره لوبې وکړي د راتلونکي ټول مسوولیتونه به یې پر غاړه، او د افغانستان خلک به یې ډېر ژر ښکېرې هم ملت او نړیوالو ته افشا، په هر محفل او مجلس کې به یې ورټلي او هم به یې د ملي خائنینو په تور د محاکمې میز ته راکاږي.

ډېر درنښت،

د افغانستان د مدني ټولنو فدریشن (FACS) او غړې اداري او شخصیتونه

د حکومت د رهبرۍ او نوماند وزیرانو حضور د ولایتونو له مخې د یادو ولایتونو د رایو له تناسب سره مل:

د لست د رایو ارقام او فیصدي د ټاکنو خپلواک کمیسیون لخوا خپرو شویو د ولسمشریزو ټاکنو د دویم پړاو د لومړنیو پایلو د نیږدې ۸ ملیونو رایو له مخې چمتو شوي چې د نورور نیږدې ۲۲ملیونونو افغانانو سرنوشت هم ورپورې تړلی دی. د یادولو وړ بولو چې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون ناخپلواک مشرتابه د کورنیو او بهرنیو سیاسي فشارونو او مصلحتونو، نه استقلالیت او عدم خود ارادیت پر اساس د دویم پړاو وروستي نتایج نه دي اعلان کړي. د لست په اړه نورې ښېرنې هم رواني دي، چې انشاء الله ډېر ژر به یې پایلې خپرې شي.

| ګڼه | پست/وزارت/اداره | نوم/ نوماند | زده کړې | ولایت | توکم/قوم | تجربه | ټیم | حزب | د غني د رایو شمیر | د عبدالله د رایو شمیر | کتنې/ ملاحضات |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ولسمشر | ډاکټر اشرف غني | دوکتورا | لوګر | پښتون | نړیوال بانک، مالي وزیر، د انتقال پروسې مشر | غني | | ۸۶۵۶۷<br>۹۰.۸۵% | ۸۷۲۲<br>۹.۱۵% | |
| ۲ | کلیو پراختیا وزارت | نصیر احمد دراني | ماسټرې/ عامه اداره | لوګر | پښتون/۶۲ | | غني | | | | د کلیو پراختیا برخه کې د مسلکي تخصص نه شتون |
| ۳ | د افغانستان بانک عمومي ریاست | خلیل صدیق | | لوګر | پښتون | | غني | | لوګر ټولې رایې:۹۵۲۸۹<br>غلور مهمې کرسی | | |
| ۴ | د ولسمشر امنیتي‌سلاکار | حاجي حبیب احمدزی | | لوګر | پښتون | | غني | | | | |
| ۵ | ولسمشر لومړی مرستیال | جنرال عبدالرشید دوستم | ۶م ټولګی | جوزجان | ازبک | | غني | ملي جنبش | ۱۰۴۹۵۷<br>۸۰.۶۵%<br>جوزجان ټولې رایې: ۱۳۰۱۵۴،<br>یوه مهمه کرسی | ۲۵۱۷۹<br>۱۹.۳۵% | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۶ | ټرانسپورټ وزارت | فيض الله ذکي | جيولوژي لسانس | سر پل | ازبک/۵۶ | | غني | ملي جنبش | ۷۰۸۳۰<br>%۲۸.۵۳<br>سرپل ټولي رايي: ۱۳۲۹۴۷<br>يوه مهمه کرسي | ۶۲۱۱۷<br>۴۶.۷۲% | په ټرانسپورټ کې د مسلکي تخصص او کاري تجربې نه شتون |
| ۷ | اطلاعات او فرهنګ | ای سلطان خيري | ادبيات دوکتورا | فارياب | ازبک/۳۷ | | غني | ملي جنبش | ۱۱۳۲۲۸<br>۳۴.۲۰% | ۲۱۷۸۹۵<br>۶۵.۸۰% | د افغاني فرهنګ، مطبوعاتو او ژورنالیزم او د افغاني ټولني په پیژندنه کي د تجربي او د رهبري صلاحیتونو، لازمي ډیپلوماسي د پوهي نشتوالي. تابعیت یي هم باید وپلټل شي. |
| ۸ | اقتصاد وزارت | سردار محمد رحمان اوغلي | | فارياب | ازبک/۵۰ | د ولسي جرګې پخواني وکيل | عبدالله | شمال ټلواله | فارياب ټولي رايي:<br>۳۳۱۱۲۳ دري<br>مهمي کرسي | | د اقتصاد په برخه کې د مسلکي تخصص او تجربو نشتوالی. |
| ۹ | مخدره توکو پر ضد د مبارزې وزارت | ډاکټر فيض الله کاکړ | د طب پوهاند | فارياب | پښتون/۶۰ | د پاکستان د WHO پخواني رييس، د عامې روغتيا وزارت پخواني معين او د ولسمشر سلاکار | غني | حزب اسلامي شوراګانو اتحاد | | | مسلکي تجربې، ورتیاوې او ملي او نړیوالي اړیکې یې د عامې روغتیا وزارت د چارو د ښه تنظیم، پراختیا او پرمختیا لپاره کټوري ثابتیدای شي. تابعیت یې پلټنه غواړي. |
| ۱۰ | ولسمشر دويم مرستيال | محمد سرور دانش | حقوق لسانس | دايکندي | هزاره | | غني | حزب وحدت خليلي | ۳۹۷۴۳<br>۲۲.۵۱% | ۱۳۶۷۷۹<br>۷۷.۴۹% | |
| ۱۱ | سوداګري او صنايع | سردار محمد رحيمي | دوکتورا، سياسي جغرافيه | دايکندي | هزاره/۳۷ | د يو خصوصي پوهنتون استاذ | عبدالله | حزب وحدت محقق | دايکندي ټولي رايي:<br>۱۷۶۵۲۲ دوه<br>مهمي کرسي | | د سوداګرۍ په برخه کې د مسلکي زده کړو او تجربو نه شتون، د تابعیت او د افغانستان په اړه د نظر باره کې يي پوښتنې |
| ۱۲ | اجرائيه رييس | ډاکټر عبدالله | طب ډاکټر | پنجشير | تاجک | | عبدالله | شمال ټلواله | ۴۰۸۵ | ۶۰۲۱۴ | |

د افغانستان د مدني ټولنو فدريشن (FACS)، ټول حقوق خوندي دي ـ يواځې د مأخذ په يادولو سره د دغې خبرنې له موضوعاتو ګټه اخيستلای شئ. facs.kabul@gmail.com

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۳ | د ولسمشر ځانګړی استازی | احمد ضیاء مسعود | | پنجشیر | تاجک | | غني | جمعیت | ۶.۳۵٪ | ۹۳.۶۵٪ | |
| ۱۴ | عامې روغتیا وزارت | داکتر فیروز الدین فیروز | طب داکتر | پنجشیر | تاجک/۴۸ | | عبدالله | شمال تلواله | پنجشیر تولي رأیې: ۶۴۲۹۹ دري مهمې کرسی | | |
| ۱۵ | اجرائیه لومړی مرستیال | انجنیر محمد خان | | غزني | پښتون | | عبدالله | حزب اسلامي ارغندیوال | ۱۲۹۱۴۶ ۴۱.۵۳٪ | ۱۸۱۷۹۱ ۵۸.۴۷٪ | |
| ۱۶ | تولګتو وزارت | داکتر محمد عباس بصیر | محیطي مطالعاتو دوکتورا | غزني | ۵۲کلن | | | | غزني تولي رایې: ۳۱۰۹۳۷ دري مهمې کرسی | | د مسلکي او سکتوري تخصص او تجربو په اړه پوښتنې!؟ |
| ۱۷ | پکتیکا ولایت | انجنیر کریم متین | | غزني | | | غني | | | | |
| ۱۸ | اجرائیه دویم مرستیال | حاجي محمد محقق | ۱۲م | بلخ | هزاره/شیعه | د ولسي جرګې پخواني غړی، د حزب مشر | عبدالله | حزب وحدت | ۱۳۱۲۵۹ %۸۹.۳۶ | ۲۲۴۵۰۶ ۶۳.۱۱% | |
| ۱۹ | مهاجرینو وزارت | سید حسین عالمي بلخي | د مشهد مدرسي فارغ | بلخ | شیعه سادات | د ولسي جرګې پخواني وکیل | عبدالله | | بلخ تولي رایې: ۳۵۵۷۶۵ دري مهمې کرسی | | |
| ۲۰ | پوهنې وزارت | محمد ګل زلمي یونسي | لسانس، حقوق او سیاسي علوم | بلخ | تاجک/۵۷کلن | د لویې څارنوالۍ کارمند | عبدالله/ | | | | د پوهنې په برخه کې د تخصصي زده کړو او تجربو نه شتون |
| ۲۱ | کورنیو چارو وزارت | نور الحق علومي | نظامي اکاډیمي | کندهار | پښتون/۷۳ کلن | د کندهار قول اردو پخوانی مشر، د ولسي جرګي پخوانی غړي | عبدالله | ملي متحد ګوند | ۲۶۸۹۴۶ ۸۴.۰۱% | ۵۱۱۸۶ ۱۵.۹۹% | پخوانی اردو کې ناکامه تجربې، پخوانی ملي اردو یوې مشخصې ډلې ته تسلیمول، د کابل جګړو کې پراخه ونډه. |
| ۲۲ | مالیې وزارت | غلام جیلاني پوپل | لسانس، حقوق | کندهار | پښتون/ ۶۰کلن | د سیمه ایزو ارګانونو پخواني رییس | غني | افغان ملت | | | د تخصصي زده کړو نه شتون، د تحصیلي اسنادو او تابعیت په اړه پوښتنې |
| ۲۳ | لوړو زده کړو وزارت | خاطره افغان | ماسټري، عامه اداره | کندهار | پښتنه | | غني | کرزی ګروپ | کندهار تولي رأیې: ۳۲۰۱۳۲ څلور مهمې کرسی | | د مسلکي تخصص او تجربو نه شتون، د عمر او تابعیت په اړه پوښتنې |
| ۲۴ | ښار جوړوني وزارت | شاه زمان میوندی | ماسټري، اقتصاد | کندهار | پښتون/۳۷کلن | | | | | | د مسلکي تخصص او تجربو نه شتون، د تابعیت په اړه پوښتنې |

| | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲۵ | کرنه او مالداري | محمد یعقوب حیدري | ماستري، پیداګوژي | کابل | تاجک/۵۳کلن | | | | ۴۵۴۲۹۶ ۵۱.۸۳%<br>۴۲۲۲۶۹ ۴۸.۱۷% | د مسلکي تخصص او تجربو نه شتون |
| ۲۶ | اوبو او برېښنا وزارت | محمود صیقل | ماستر نړیواله پراختیا | کابل | تاجک/۵۲کلن | | عبدالله | | کابل تولي رايي: ۸۷۶۵۶۵<br>دوه مهمې کرسۍ | د مسلکي تخصص او تجربو نه شتون، د تابعیت په اړه پوښتني |
| ۲۷ | عدلیې وزارت | ډاکتر احمد سیر مهجور | دوکتورا، سیاسي ټولنپېژندنه | بغلان | تاجک/۵۰کلن | فرانسه کې د پوهنتون استاد | عبدالله | | ۱۷۲۳۱۷ %۸۱.۴۴<br>۲۱۲۲۲۳ %۱۹.۵۵ | د مسلکي تقنيني تجربو نه شتون، د تابعیت په اړه پوښتني |
| ۲۸ | کار او ټولنیزو چارو وزارت | سادات نادري | لسانس اقتصاد او سوداګري | بغلان | اسماعیلیه/شیعه ۳۷کلن | | | | بغلان تولي رايي: ۳۸۴۵۴۰<br>دوه مهمې کرسۍ | د مسلکي تخصص او تجربو نه شتون، د تابعیت په اړه پوښتني |
| ۲۹ | سرحدونو او قبایلو چارو وزارت | قمرالدین شینواری | لسانس، حقوق | ننګرهار | پښتون | پخوانی څارنوال | غني | | ۳۱۸۳۴۸ % ۶۳.۷۷<br>۹۱۷۳۸ %۳۷.۲۲<br>د ننګرهار تولي رايي: ۴۱۰۰۸۶<br>یوه غیر مهمه کرسۍ | |
| ۳۰ | د کانونو وزارت | داود صبا | دوکتورا، ځمکپېژندنه | هرات | تاجک | د هرات پخوانی والي، IRD پخوانی کارمند | غني | | ۱۸۶۱۱۸ % ۳۵.۳۶<br>۳۲۵۸۴۳ % ۶۵.۶۳<br>د هرات تولي رايي: ۵۱۱۹۶۱<br>یوه مهمه کرسۍ | په هرات ولایت او IRD کې د کار پر مهال د شفافیت په اړه یو لړ پوښتني |
| ۳۱ | بهرنیو چارو وزارت | صلاح الدین رباني | ماستري | بدخشان | تاجک/۴۴کلن | د سولې عالي شورا مشر | عبدالله | | ۶۴۵۷۸ % ۶۸.۲۰<br>۲۴۷۶۳۷ %۳۲.۷۹<br>د بدخشان تولي رايي: ۳۱۲۲۱۵<br>یوه مهمه کرسۍ | د سولې عالي شورا د ریاست پر مهال ناکامه تجربې او د ملت د کتو او ارمانونو خلاف د امکاناتو او وسایلو استعمالول |

| | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۳۲ | حج او اوقافو وزارت | فيض محمد عثماني | لسانس،اسلامي علوم | کندز | ترکمن/۴۲کلن | پوهنتون استاذ | | | ۱۱۰۷۴۲ % ۶۴.۵۷<br>۸۱۳۷۵ %۳۶.۴۲ | د مديريت او رهبرۍ په برخه کې ناکافي تجربه |
| ۳۳ | کندز ولايت | محمد عمر ساپی | | کندز | پښتون | | | | د کندز تولي رأيي: ۱۹۲۱۷<br>دوه مهمي کرسی | |
| ۳۴ | مخابراتو وزارت | برنا کريمي | ماستري، اداره او سوداګري | ارزګان | هزاره/۳۹کلن | کاناډا کې پخوانی سفير، د سيمه ايزو ارګانونو مرستيال | عبدالله | | ۱۳۹۲۲ %۴۸.۶۷<br>۶۷۰۹ %۵۲.۳۲<br>د ارزګان تولي رأيي: ۲۰۶۳۱<br>يوه مهمه کرسی | په سيمه ايزو ارګانونو او کاناډا سفارت کې د کار پر مهال د شفافيت په اړه پوښتني او په کاناډا کې د سفارت له دندي بې اجازي تګ او د شخصي ګټو به موخه خصوصي امريکايي شرکت کې د دندي پيلول |
| ۳۵ | ملي دفاع وزارت | شير محمد کريمي | ارکان حرب | خوست | پښتون/۷۰کلن | لوی درستيز | | | ۳۸۸۵۳۲ %۰۹.۹۷<br>۱۱۶۲۸ %۹۱.۲<br>د خوست تولي رأيي: ۴۰۰۱۶۰<br>يوه مهمه کرسی | د قانون له حکمونو له مخې د عمر دپړوالي، نو ځکه بايد ورسره همکاري وشي او له نور خدمت کولو معاف او استراحت ورته تجويز شي. د لوي درستيز دندی پر مهال و نه توانيد ملي اردو په رښتيا ملي کړي او يا هم پر ختيځ او ګڼ شمير ولاياتو کې د بريدونو د ترمخه خنثی کولو لپاره کارنده عملي ستراتيژی وکاروي. |

| | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۳۶ | ښخو چارو وزارت | نجیبه ایوبي | لسانس، ژورنالیزم | پروان | هزاره/۴۶کلنه | کلید ګروپ مشره | عبدالله | | ۲۰۰۴۴ ٪ ۸۹.۱۳ \| ۱۲۴۲۸۷ ٪ ۱۱.۸۶<br>پروان رأیې: ۱۴۴۳۳۱<br>یوه کرسی | |
| ۳۷ | ملي امنیت ریاست | رحمت الله نبیل | لسانس، انجنیري | میدان وردګ | پښتون/۴۵کلن | امنیت شورا مرستیال | | | ۱۸۶۳۸۲ ٪۰۹.۷۹ \| ۴۹۲۸۱ ٪۹۱.۲۰<br>د میدان وردګ ټولې رايې:<br>۲۳۵۶۶۳<br>یوه مهمه کرسی | د کار په جریان کې پخوا د ګڼ شمیر کورنیو او بهرنیو بریدونو په ترمخه خنثي کولو کې پاتې راغلی |
| ۳۸ | ملي امنیت سلاکار | حنیف اتمر | | لغمان | پښتون | کورنیو چارو پخوانی وزیر | غني | | ۱۰۲۵۵۶ ٪۷۹.۸۵ \| ۱۶۹۸۶ ٪۲۱.۱۴<br>لغمان ټولې رأیې:<br>۱۱۹۵۴۲<br>یوه مهمه کرسی | |

د افغانستان د مدني ټولنو فدرېشن (FACS)، ټول حقوق خوندي دي ـ یواځې د مأخذ په یادولو سره د دغې څېړني له موضوعاتو ګټه اخیستلای شئ. facs.kabul@gmail.com

**د ملي وحدت حکومت د رهبرۍ لخوا له يو شمير ولاياتو سره د مور او ميرې سلوک، د حکومت په رهبرۍ کې د ګڼ او کم رنګه حضور او محروميتونو تناسب**

**دلته دم او قدم دواړه په حساب دي - پل غلط په لاره مه ږده بې حسابه**

| ګڼه | د ولايت نوم | د ډاکټر غني رأيې | د ډاکټر عبدالله رأيې | د ولايت ټولې رأيې | د مهمو کرسيو شمير | کتنې ( ملاحظات) |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | لوګر | ۸۶۵۶۷<br>۹۰.۸۵% | ۸۷۲۲<br>۹.۱۵% | لوګر ټولې رايې:۹۵۲۸۹ | ځلور مهمې کرسۍ<br>ټولې د غني ټيم | |
| ۲ | جوزجان | ۱۰۴۹۵۷<br>۸۰.۶۵% | ۲۵۱۷۹<br>۱۹.۳۵% | جوزجان ټولې رايې: ۱۳۰۱۵۴ | يوه مهمه کرسۍ<br>غني ټيم | |
| ۳ | دايکندي | ۳۹۷۴۳<br>۲۲.۵۱% | ۱۳۶۷۷۹<br>۷۷.۴۹% | دايکندي ټولې رايې: ۱۷۶۵۲۲ | دوه مهمې کرسۍ<br>يوه د غني يوه د عبدالله | |
| ۴ | پنجشير | ۴۰۸۵<br>۶.۳۵٪ | ۶۰۲۱۴<br>۹۳.۶۵٪ | پنجشير ټولې رأيې: ۶۴۲۹۹ | درې مهمې کرسۍ<br>يوه غني دوه عبدالله ټيم | |
| ۵ | غزني | ۱۲۹۱۴۶<br>۴۱.۵۳٪ | ۱۸۱۷۹۱<br>۵۸.۴۷٪ | غزني ټولې رايې: ۳۱۰۹۳۷ | درې مهمې کرسۍ | |
| ۶ | بلخ | ۱۳۱۲۵۹<br>۳۶.۸۹% | ۲۲۴۵۰۶<br>۶۳.۱۱% | بلخ ټولې رايې: ۳۵۵۷۶۵ | درې مهمې کرسۍ<br>درېواړه عبدالله ټيم | |
| ۷ | فارياب | ۱۱۳۲۲۸<br>۳۴.۲۰% | ۲۱۷۸۹۵<br>۶۵.۸۰% | فارياب ټولې رايې: ۳۳۱۱۲۳ | درې مهمې کرسۍ<br>دوه غني‌او يوه عبدالله | |
| ۸ | سرپل | ۷۰۸۳۰<br>۵۳.۲۸% | ۶۲۱۱۷<br>۴۶.۷۲% | سرپل ټولې رايې: ۱۳۲۹۴۷ | يوه مهمه کرسۍ | |

د افغانستان د مدني ټولنو فدرېشن (FACS)، ټول حقوق خوندي دي - يواځې د مأخذ په يادولو سره د دغې څېړنې له موضوعاتو ګټه اخيستلای شئ. *facs.kabul@gmail.com*

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۹ | کندهار | ۸۴ ۲۶۸۹۴۶.۰۱% | ۱۵ ۵۱۱۸۶.۹۹% | کندهار تولي رأیي: ۳۲۰۱۳۲ | څلور مهمي کرسی | |
| ۱۰ | کابل | ۴۵۴۲۹۶ ۵۱.۸۳% | ۴۲۲۲۶۹ ۴۸.۱۷% | کابل تولي رایي: ۸۷۶۵۶۵ | دوه مهمي کرسی | |
| ۱۱ | بغلان | ۱۷۲۳۱۷ ۴۴.۸۱% | ۲۱۲۲۲۳ ۵۵.۱۹% | بغلان تولي رايي: ۳۸۴۵۴۰ | دوه مهمي کرسی<br>یوه غني او یوه عبدالله | |
| ۱۲ | ننګرهار | ۷۷ ۳۱۸۳۴۸.۶۳% | ۹۱۷۳۸ ۲۲.۳۷% | ننګرهار تولي رايي: ۴۱۰۰۸۶ | یوه غیر مهمه کرسی<br>غني تیم | |
| ۱۳ | هرات | ۱۸۶۱۱۸ ۳۶.۳۵% | ۳۲۵۸۴۳ ۶۳.۶۵% | هرات تولي رايي: ۵۱۱۹۶۱ | د یوه مهمه کرسی | |
| ۱۴ | بدخشان | ۶۴۵۷۸ ۲۰.۶۸% | ۲۴۷۶۳۷ ۷۹.۳۲% | بدخشان تولي رايي: ۳۱۲۲۱۵ | یوه مهمه کرسی | |
| ۱۵ | کندز | ۱۱۰۷۴۲ % ۶۴.۵۷ | ۸۱۳۷۵ ۴۲.۳۶% | کندز تولي رأیي: ۱۹۲۱۱۷ | دوه مهمي کرسی | |
| ۱۶ | ارزګان | ۱۳۹۲۲ ۶۷.۴۸% | ۶۷۰۹ ۳۲.۵۲% | د ارزګان تولي رأیي: ۲۰۶۳۱ | یوه مهمه کرسی | |
| ۱۷ | خوست | ۳۸۸۵۳۲ %۰۹.۹۷ | ۱۱۶۲۸ ۲.۹۱% | د خوست تولي رأیي: ۴۰۰۱۶۰ | یوه مهمه کرسی | |
| ۱۸ | پروان | ۱۳ ۲۰۰۴۴.۸۹% | % ۱۱.۸۶ ۱۲۴۲۸۷ | پروان تولي رأیي: ۱۴۴۳۳۱ | یوه مهمه کرسی | |

د افغانستان د مدني ټولنو فدریشن (FACS)، ټول حقوق خوندي دي ـ یوائې د مأخذ په یادولو سره د دغې خپرنې له موضوعاتو ګټه اخیستلای شئ. facs.kabul@gmail.com

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۹ | میدان وردګ | ۱۸۶۳۸۲<br>۷۹.۰۹% | ۴۹۲۸۱<br>۲۰.۹۱% | د میدان وردګ تولي رايي:<br>۲۳۵۶۶۳ | یوه مهمه کرسی | |
| ۲۰ | لغمان | ۱۰۲۵۵۶<br>۸۵.۷۹% | ۱۶۹۸۶<br>۱۴.۲۱% | لغمان تولي رأيي: ۱۱۹۵۴۲ | یوه مهمه کرسی | |
| ۲۱ | هلمند | ۴۰۹۴۳<br>۶۹.۳۶% | ۱۸۰۸۳<br>۳۰.۶۴% | د هلمند تولي رايي: ۵۹۰۲۶ | د کرسیو شمیر = صفر | |
| ۲۲ | غور | ۹۰۴۹۱<br>۲۷.۵۲% | ۲۳۸۳۰۳<br>۷۲.۴۸% | ۳۲۸۷۹۴د غور تولي رأيي: | د کرسیو شمیر = صفر | |
| ۲۳ | بادغيس | ۴۶۷۰۲<br>۳۴.۵۰% | ۸۸۶۵۰<br>۶۵.۵۰% | ۱۳۵۳۵۲د بادغيس تولي رأيي: | د کرسیو شمیر = صفر | |
| ۲۴ | فراه | ۳۵۲۵۲<br>۴۶.۷۶% | ۴۰۱۳۳<br>۵۳.۲۴% | ۷۵۳۸۵د فراه تولي رأيي: | د کرسیو شمیر = صفر | |
| ۲۵ | سمنګان | ۵۱۹۶۲<br>۳۶.۸۳% | ۸۹۱۴۱<br>۶۳.۱۷% | ۱۴۱۱۰۳د سمنګانو تولي رأيي: | د کرسیو شمیر = صفر | |
| ۲۶ | تخار | ۱۴۶۶۴۸<br>۴۷.۷۹% | ۱۶۰۲۱۸<br>۵۲.۲۱% | ۱۷۴۸۶۶د تخار تولي رأيي: | د کرسیو شمیر = صفر | |
| ۲۷ | کاپیسا | ۱۰۷۵۶<br>۱۲.۶۴% | ۷۴۳۶۴<br>۸۷.۳۶% | د کاپیسا تولي رأيي: ۸۵۱۲۰ | د کرسیو شمیر = صفر | |
| ۲۸ | کونړ | ۱۸۶۶۹۷<br>۸۷.۹۷% | ۲۵۵۲۱<br>۱۲.۰۳% | ۲۱۲۲۱۸د کونړ تولي رأيي: | د کرسیو شمیر = صفر | |
| ۲۹ | نورستان | ۲۳۷۲۲<br>۲۹.۳۲% | ۵۷۱۹۳<br>۷۰.۶۸% | د نورستان تولي رأيي: ۸۰۹۱۵ | د کرسیو شمیر = صفر | |
| ۳۰ | پکتیا | ۳۰۷۴۴۵<br>۹۱.۹۴% | ۲۶۹۶۰<br>۸.۰۶% | د پکتیا تولي رأيي: ۳۳۴۴۰۵ | د کرسیو شمیر = صفر | |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۳۱ | پکتیکا | ۳۵۷۱۷۳<br>۸۸.۲۹% | ۴۷۳۸۹<br>۱۱.۷۱% | د پکتیکا تولي رأيي: ۴۰۴۵۶۲ | د کرسیو شمیر = صفر | |
| ۳۲ | باميان | ۴۰۷۵۸<br>۲۴.۳۶% | ۱۲۶۵۷۰<br>۷۵.۶۴% | د باميان ټولي رأيي: ۱۶۷۳۲۸ | د کرسیو شمیر = صفر | |
| ۳۳ | زابل | ۵۵۴۰۸<br>۹۲.۵۷% | ۶۷۰۹<br>۳۲.۵۲% | د زابل تولي رأيي: ۶۲۱۱۷ | د کرسیو شمیر = صفر | |
| ۳۴ | نیمروز | ۲۰۶۶۸<br>۶۵.۳۳% | ۱۰۹۷۰<br>۳۴.۶۷% | د نیمروز تولي رأيي: ۳۱۶۳۸ | د کرسیو شمیر = صفر | |

په هيواد کې د انصاف، سراسري ټولنيز عدالت، شفاف او حسابده نظام د ټينګښت په هيله!

سرلوړي او سوکاله دې وي افغان ولس!

امن دې وي پر ټوله نړۍ!

دېر درنښت،

د افغانستان د مدني ټولنو فدرېشن (FACS)

کابل، افغانستان

د لا ډېرو معلوماتو لپاره:۰۰۹۳۷۸۸۱۶۱۸۵۳، facs.kabul@gmail.com

د افغانستان د مدني ټولنو فدرېشن (FACS)، ټول حقوق خوندي دي - يوائې د مأخذ په يادولو سره د دغي څېرني له موضوعاتو ګټه اخيستلای شئ. *facs.kabul@gmail.com*